# د پښتو خپلواک غږ پوهنه

# Phonology of Pashto Vowels

1. Dr Faqir Muhammad Faqir
2. Dr Badrul Hakim Hakimzai

**Abstract:**

Phonemes or sounds play very important role in languages. Every language has a set of distinctive sounds. The articulatory organ articulates some different types of sounds which are Consonants and Vowels. In producing of sounds articulatory organs and air flow have significant role e,g open, close, free and its motion have great effect on sound producing. Vowels are those in which the flow of air from lungs and vocal cards is not disturbed or stop in oral cavity. All Vowels are voiced because the vocal cards are close together and tense. Vowels also play role in giving meanings and stress to consonants.

In this paper I discussed about the function, pronunciation, articulation and their kinds.

Key words: Vowels articulation, kinds of vowels, Semi Vowels, Diphthong.

ژبپوهنه کښې د غږ بنیادي حېثیت وي او په کښې غږ په سائنسي پېمانه تللے، ازمائیلے او مطالعه کولے شي۔ ژبه کښې د غږ پوهنې علم ډېر ارزښت لري او د ژبې بنیادي اساس او بیا سائنسي مطالعې د دې اهمیت او حېثیت لا نور زیات کړے دے۔ په دغه وجه یې نړیوال مقام هم تر لاسه کړے دے او ټوله نړۍ کښې ورته پاملرنه کېږي۔ د بدقسمتۍ نه پښتو ژبه کښې ئې لا تر اوسه زړۀ پورې مقام موند لے نۀ دے او دې اړخ ته ډېره کمه توجه ورکړې شوې ده۔ تر اوسه پورې چې پښتو کښې د ژبې په اړه څومره کار شوې دے او خصوصاً چې څومره ګرامرونه لیکلي شوي دي په هغو کښې د شمېر څو ګرېمرو نو نه علاوه د غږ پوهنې اړخ ته ښېخي پاملرنه نۀ ده شوې۔ پښتو کښې چې څومره ګرېمرونه هم لیکلي شوي دي د غږونو باره کښې د مستشرقینو برابر نۀ دي او د هغوي په مقابله کښې کمزوري دي او څۀ خاص وضاحت نۀ لري[1]

1. *Lecturer, PSC, Bacha Khan University, Charsadda*
2. *Lecturer, PSC, Bacha Khan University, Charsadda*

د اوازونو یا غږونو علم ډېر اهمیت لري او په نړیواله توګه ورته خاص مقام حاصل دے تر دې چې په ۱۹۱۲ء کښې د یو بین الاقوامي (International phonetics association) انجمن له خوا غږونو ته د بین المللي الفبا شکل ورکړے شو، چې د بین المللي الفبا (international phonetics alphabet) په نامه یادیږي. د ژبې د سائنسي مطالعې د اهمیت په وجه د نړۍ په پوهنتونونو کښې د یو ځان له ځانګې په حېث ښودلے شي او ښېړنې پرې کیږي. د دې نه د غږ پوهنې د مقام او اهمیت اندازه کېدے شي.

پښتو ژبه کښې کۀ هر څو د دې اړخ ته له سپکه ده او پام ورته هغسې نۀ دے شوې څومره چې پکار دے خو اوس پرې د نړیوال ارزښت له کبله کار شوې دے او زر ده چې د معیار او مقدار په دواړو حوالو به ارزښت حاصل کړي او د نړۍ د ژبو سره به څنګ په څنګ مزل کوي.

## خپلواک : Vowel

د ژبې په وجود کښې د غږ بنیادي حېثیت او اهمیت دے او کله چې غږ ادا کېږي نو دغه دوران کښې د صوتي یا غږونو اندامونو نه علاوه د هوا د حرکت هم ډېر اهم کردار لو ېږي. د هوا کمي زیاتي، حرکت، آزادي او بندېز په غږونو اثر پرېباسي. کوم اوازونه چې بغېر د څۀ بندېز نه ادا کېږي یعنې چې د هوا په لاره کښې څۀ بندېز نۀ وي نو دې ته خپلواک وائي. په انګرېزۍ کښې واول (Vowel)، عربۍ کښې حروف علت، اردو کښې مصوتے او پښتو کښې مختلفو پوهانو مختلف نومونه ورکړي دي لکه خپلواک، حرکې، علي او کومکي غږونه.

"واول هغه اواز دے چې د پېدا کولو په وخت کښې د پرپوس نه د نېرنکس او غړیزو ببوزو په لاره راتېرېدونکي هوا د خُلې په په ځانه کښې د څۀ خنډ سره نۀ مخامخ کېږي." ۲

د اواز پوهنې په اړه چې مونږ ښېړنه کوؤ نو دوه قسمه غږونو سره مخ کیږو. یو قسم هغه چې د ادا کولو په وخت خولۀ وازه وي او بل هغه غږونه وي چې د وبنا په وخت پکښې خولۀ بندیږي او بندېز پېدا کېږي. کله چې غږ په زور یا لږ ډېر بندېز سره راوځ ي او خولۀ نه وازیږي نو دې قسم غږونو ته بې واک (Consonants) وئیلے شي. کومو غږوو د پاره چې خولۀ په څۀ اندازه زیاته وازیږي او غږ ته په ادائیګۍ کښې څۀ بندېز هم مخې ته نۀ راځي. د هوا لاره ازاده وي نو چې کوم غږ پېدا کیږي هغه خپلواک وي. مطلب دا چې د خپلواک د ادائیګۍ په وخت هوا په خپله مرضۍ وړاندې حرکت کوي او څۀ خاص بندېز مخې ته نۀ راځي. د دې د ادا کولو په

وخت غږیز تارونه (Vocal cards) یو بل ته نږدې کېږي ځکه خپلواک همېشه غږن یا مصیتي (Voiced) وي. د دې په مقابله کښې بې واک بې غږه دواړه کېدلے شي. ۳

خپلواک غږونه په دې هم اهمیت لري چې بې واک له معنا او حرکت ورکوي. د دې نه بغېر په کلمه کښې د بې واک ارزښت معنې خېز نه پاتې کېږي او بې واک یا حروف صحیحه (consonants) ارومرو خپلواک ته اړتیا لري.

پروفېسر ګوپي چند نارنګ لیکي:

"وہ آوازیں جنھیں پیدا کرنے کے لئے ہوا کے گزرنے کا راستہ نسبتاً کھلا چھوڑ دیا جاتا ھے لیکن زبان اور ھونٹوں کی مختلف حرکات سے منہ کے اندرون حصے کی شکل میں تغیر و تبدل کیا جاتا ھے۔ اسی طرح سے پیدا ھونے والی اوازوں کو مصوتے کھا جاتا ھے۔" ۴

په دې قسمه غږونو کښې د هوا لاره نۀ شي نیولې او بغېر د څۀ بندیز په آزادۍ سره حرکت کوي. په سنسکرت کښې خپلواک ته "سور" وائي او سور ته "اکشر" هم وائي چې معنا یې حرکت ورکول دي. سور یا اکشر کلمې د پاره د جوهر حېثیت لري او بې واکه اوازونه خپلو کښې تړي او کلمه کښې مانا هم پیدا کوي. ۵

خپلواک غږونه بې واک غږونو له مانې ورکوي او په دغه وجه یې هم اهمیت زیات چې بې واک له حرکت ورکوي او یو تر بله یې پېوستون پیدا کوي. بې واک د دې نه د مدد نه بغېر نیمګړے وي او د دې بغېر په کلمه کښې ادا کېدے نۀ شي. بې واک غږ کلمه کښې خپلواک ته محتاج وي او کلمه کښې تر مېنځه یا وروستو هم استعمالېدے شي. دواړه قسمه غږونه یو بل د پاره لازم او ملزوم دي. د دې دواړو مثال د رنګ او کپړې دے کۀ بې واک غږ د کپړې حېثیت لري نو خپلواک غږ د رنګ حېثیت لري. څنګه چې کپړه یا ټوکې ارومرو رنګ لري او بې رنګه نۀ شي کېدلے دغسې بې واک د خپلواک نه بغېر په کلمه کښې وجود نۀ شي لرلے. ۶

ډاکټر عبدالرازاق پالوال لیکي:

"بنوړن غږونه دوې وظیفې تر سره کوي. یو دا چې وزغر دو غږونو ته حرکت ورکوي یو له بله بې سره نښلوي. او بله دا چې دوې پخپله ډېر کله مانا یې یا مانا لرونکي واح دو نه هم وي. بنوړن غږ د لغت په سر کښې راتلے نۀ شي." ۷

د پالوال دا خبره چې مانا لرونکي واحدونه وي نو په دې مانا خو سمه ده چې د بې واک مانا کښې بدلون راوستلې شي خو دا سمه نۀ ده چې ځان له معنا لرونکے وي بل دا چې د لغت په

سر کښېږي نۀ شي راتللې نو دې سره هم اختلاف کېدلے شي ځکه چې پښتو کښې د لغت په سر کښې هم راځي. مطلب دا چې کۀ اکثرو ژبو کښې خپلواک د کلمې په سر کښې نۀ راځي مېنځ او اخر کښې راځي خو په پښتو کښې درې واړو حالتونو کښې راتلے شي.

د خپلواک مخرج پېژندنه: (Point of Articulation of Vowel)

د خپلواک په سمه توګه پېژندلو ا و د دې د ادائیګۍ د اندامونو واضح کولو د پاره ضروري ده چې دا په درې درجو یا قسمونو وویشلے شي نو وضاحت به یې اسان شي. د دې عرض د پاره به مونږ ژبه په دربو حصو کښې تقسیموؤ. لکه مخنۍ، منځنۍ او وروستنۍ حصه. بیا به د دې د حالتونو په بنیاد هم خبره کوؤ.

1. د ژبې هغه حصه چې برني مخرج سره لګي
2. د ژبې اوچتوالے
3. د شونډو حالت چې ګول وي یا هواري

اوس چې مونږ د ژبې درې حصو د تقسیم مطالعه کوؤ نو معلومه به شي چې اکثر خپلواک د ژبې د مخنۍ یا وړاندینۍ او وروستنۍ حصې نه ادا کولې شي او ډېر کم د منځنۍ حصې نه ادا کېږي. بله دا چې ژبه څومره بره اړخ ته اوچتېږي نو د دې د اوچتوالي یا ښکته والي په سوب هوا ته لاره کمېږي یا زیاتېږي او یا به خولۀ نیمه خوا وازه (Half Open) وي یا به بېخي بنده (Close) وي. ۸ څومره چې خولۀ یا ژامې وازې وي ن و هغه هومره ژبه لاندې (Lowe open) وي او چې نیمه وازه (Half open) وي نو درمیاني او د بندېدو (High Close) په صورت کښې بره تالو ته نږدې وي. خو د خپلواک د ادائیګۍ دوران د بند (Close) مطلب دا هم نۀ دے چې ژبه دې تالو سره پېوست وي او د هوا لاره بېخي بنده وي.

مطلب دا چې د ژبې د حرکت په حساب درې قسمونه دا سې وي چې کۀ دژبې سر د تالو سختې حصې طرفته اوچتېدل یا د ژبې منځنۍ حصه نرم تالو اړخ ته یا د ژبې وروستۍ حصه نرم تالو اړخ ته حرکت کول وي. د ژبې څوکه چې استعمال شي نو دې ته مخنے (Frontal) د درمیاني حصې (Central) او چې د ژبې وروستۍ حصه حرکت کوي نو وروستے خپلواک (Back Vowel) ګڼلے شي. د ژبې سر کۀ هر څو د تالو اړخ ته زور کوي خو دومره هم نۀ ورنږدې کېږي چې د هوا لاره ونیسي کۀ چرې دغه لاره ونیولې شي نو بیا خو خپلواک نه بې واک غږ شو.

څنګه چې د ژبې اوچتوالے او ښکته والي اهمیت لري نو دغسې د شونډو حالت هم د ے۔شونډې چې عام حالت کښې وي نو یو شان او چې ګول وي نو بل شان خپلواک پېدا کوي:

"د مصوته اهم خاصیت دا د ے چې د ادائیګۍ په وخت خلۀ د وازولو یا بندېدلو او د هغې د شکل صورت اخلي، بنیادي مصوته [i] دہ، د دې د ادائیګۍ په وخت خولۀ وازه او ژبه ټیټه پاتې شي۔ خولۀ رانیول شي او ژبه چې رابره کېږي نو د مختلفو نوعیتونو وړاندینۍ مصوته ادا کېږي۔ دغسې خولۀ بتدریج بندوي او د ژبې وروستنۍ برخه په بره راپورته کولو او شونډان په راغونډولو سره وروستۍ مصوته پیدا کېږي۔" ۹

څومره چې خولۀ وازه وي او دواړه ژامې د یو بل نه لرې وي نو ژبه ښکته وي خو چې ژامې یو بل ته نزدې کېږي نو د ژبې حالت بره وي۔ دغسې د شونډو د عام حالت او ګول شکل اختیارولو کښې وروستې خپلواک ادا کولے شي۔

"انگریزی اور اردو میں اگے کے مصوتے کشیدہ اور پیچھے کے مدور ھوتے ھے۔ لیکن انگریزی کے جملہ بولیوں میں ایسا نھیں۔ دوسری زبان میں ان کے برعکس یا دونوں قسم کے صورتیں ملتی ھیں ۔یہ بھی ھے کہ زبان جس قدر ابھرا اٹھتی ھے اسی تناسب سے ھونٹوں کی گولائی کا عمل بڑھ جا تاھے۔ گولائی کا یہ عمل مختلف زبانوں میں مختلف ھوتاھے۔"١٠

د شونډو حالت د خپلواکو غږونو د ادائیګۍ فرق ښکاره کوي۔ د دې مختلف حالتونه یا شکلونه د خپلواکو د ادا کولو او د غږونو د کیفیت ښکا رندویه وي۔ یو قسم مخرج لرونکو اوازونو ته کۀ د شونډو د شکل د بدلون اندازه او د حق هم دغه یو غږ به په بدلون مختلفو حصوصیت اولري او دا په یقیني شي چې د ګول شونډو او حورو د ادائیګۍ په وجه په مختلف غږ پیدا کیږي۔ ۱۱

کۀ مونږ غواړو چې د ژبې د مختلفو حصو حرکتونه او د شونډو حالتونه په سمه طریقه وپېژنو نو دې د پاره به د ژبې د یو مخصوص شکل نه کار اخلو۔



او o ______________________ ع اَے نئیم

وازه

آ a ______________________ خفیفه اَے زورکي

وازه

دا شکل د ژبې د څوکې، مېنځ او وروستۍ حصې حرکت ښائي او دا هم چې ژبه د خولې په خلا کښې څومره بره مېنځ کښې یا ښکته ده۔ چې د ژبې په سر کوم خپلواک ادا کېږي نو د ژبې اوږدوالے به زیات وي خولۀ به وازه او ژبه به بره وي۔ څومره چې لاندې راځو نو د ژبې اوږدوالي به کمېږي او مخې ته به زور نۀ کوي۔ کوم خپلواک چې د ژبې اولنۍ حصې یا څوکې نه ادا کېږي په هغې کښې شونډې په عام حالت یا پرانستې وي او کوم چې د ژبې وروستۍ حصې نه ادا کېږي نو په هغو کښې شونډې راوغنډې یا ګول وي۔ دا د خپلواک غږ ادا کولو کښې د ژبې وړاندې او وروستو حصو د مخرجونو حالتونه دي چې وړاندې وروستو د ژبې اوږدوالي او ښکته والي بره والي د ژبې لاندې باندې حرکت هم واضحه کوي۔

وړاندینۍ منځ وروستۍ

| | | | |
|---|---|---|---|
| لوړه یا بره | و [o] سورې، اور | | ي [i] سرې، ایره |
| درمیان | و [u] دُوړه، تُوره، سُور | ي [e] تبر، زیلۍ، ګډې | |
| ښکته | اَ [ ā ] لار، کار | | ء [ə] زړۀ، کړۀ، اوړۀ |

د [ي] i: په حالت کښې ژبه وړاندې او ښکته وي۔

د [ي] e: په دې کښې ژبه د خولې په مېنځ کښې وي۔

د [آ] ā: دې حالت کښې د ژبې وروستۍ حصه حرکت کوي۔

د شونډو حالت:

خورې شونډې: [ؤ] u لُور، سُور

راټولې یا ګول شونډې: [و] O مور، خور

د دې نور وضاحت کوؤ نو د [ي] په ادائيګۍ کښې ژبه وړاندې او بره يا لوړه وي. يعنې خولۀ يا ژامې لړې بندې وي نو دې ته (Close or High) خپلواک وائي. او کله چې ژبه لاندې وي او ژامې له يو بله لرې وي نو دې ته په انګرېزۍ کښې (Open or Low) وئيلے شي.

"A close (or high) vowel is one in the production of which the jaws are held closed together because tongue is high in the mouth). In contrast, the production of an open (or low) vowel involves the opening of mouth more widely (because of the lowering of the tongue.)" ١٢

ژباړه: بند يا لوړ او بره خپلواک هغه وي چې د ادائيګۍ په وخت ژامې بنډې وي نو ژبه بره وي. د دې په مقابله کښې د وازې خولې پرانستې خپلواک هغه وي چې د ادا کولو په وخت کښې خولۀ وازه وي او ژبه لاندې وي.

په دې کښې د اولنۍ د پاره مثال [ي] [وُ] i ـ u دي او د دوېم مثال [ا] او [ــَ] a ə د دے.

علاوه چې د شونډو د حرکت له مخه يې کوم قسم د ے په هغې کښې د شونډو په راغونډولو يا ګول کولو چې کوم خپلواک ادا کېږي هغې ته ګول (Round Vowel) وئيلے شي.

"A round vowel is produced with the lips rounded, an un rounded vowel is produced without lip rounding."١٣

ژباړه: ګول يا راغونډ خپلواک د شونډو په راغونډولو مخې ته راځي او دخپلواک د ادا کولو په وخت شونډې خورې وي يا عام حالت کښې شونډې ګول نه وي.

مطلب دا چې د ژبې حصو او حالتونو، د خولې دحالتونو او د شونډو د مختلو حرکتونو او حالتونو باندې د خپلواک دارو مدار وي او اهم کردار ادا کوي.

نيم واک: (Semi Vowel)

نيم واک غړونه د خپلواک غړونو هغه قسم ته وئيلے شي چې کله د بې واک او کله د خپل واک په شکل کښې څرګندېږي. پښتو ژبه کښې و [w] او ے [y] د نيم واک حېثيت لري. دا دواړه

غږونه په چپه یا سیلاب پورې اړه لري۔ کۀ د سیلاب حصه شي نو خپلواک او کۀ د سیلاب چپه نۀ شي نو بې واک وي۔ د [w] نیم واک د سیلاب یا چپې په شروع یا مبنځ کښې راځي۔ کۀ چرې اخره کښې راشي نو بیا غبرګ غږ (Diphthong) وي۔

"هغو اوازونو ته وئیلے کېږي چې د خپل واک او بې واک اوازونو تر منځګړیتوب کوي یا په بله وینا هم د واول او هم د کانسونېنټ په ډول ادا کېږي۔ کۀ د ځپې زړے (هسته) وګرځي د خپلواک بڼه اخلي او کۀ د ځپې زړے ونۀ ګرځي نو د بې واک په بڼه څرګندېږي۔" ۱۴

خپلواک همېشه د غږنیا اواز لرونکے (Voiced) اواز وي خو کۀ چرې دوه خپلواک غږونه په یو اواز یا لفظ کښې راشي نو بیا به اکثر یو "غږ" واله او بل "بې غږه" (unvoiced) وي۔ دا کوم چې بې غږه وي نو دې ته نیم واک (Semi Vowel) وئیلے شي۔ ۱۵

په مختلفو ژبو کښې څۀ غږونه داسې وي چې کله د خپلواک او کله د بې واک رنګ اخلي۔ پښتو ژبه کښې داسې دوه اوازونه [و] او [ے] دي چې کله د اوچتې چپې او هجا د تشکیل په وجه د خپلواک بڼه اخلي او کله کله د هجا د کم زور په وجه د بې واک په شکل څرګندېږي ۱۶

پښتو کښې د دې مثالونه دا دي:

و [w]: ور [War] کنډو [Kandāw]

ے [y]: یور [Yur]، یو [yaw]، اګۍ [agə̆y] وغیره

غبرګ غږ (Diphthong):

غبرګ غږ د واول هغه قسم دے چې د دوو واولونو نه جوړ شوے وي یا داسې هم وي چې یو واول او بل نیم واول وي۔ خو دغه دواړه غږونه داسې ادا کېږي چې د یو ګمان پرې کېږي او یو جدا محسوسېږي۔ دواړه واول په یوه ساه ادا کېږي او یو سیلابیز (Sylable) شکل کښې وي کۀ هر څو دوه حصې لري خو یوه ښکاري۔

د غبرګ غږ په صورت کښې اولنې واول د پوره ادا کولو نه وړاندې د دوېم واول ادائیګۍ اړخ ته ادا کېږي خو په داسې طریقه چې د څۀ بدلون احساس نۀ لري او دوېم واول هم پوره نۀ شي ادا کېدلے او د ادائیګۍ د مقام نه لږ وړاندې ودرېږي۔ ۱۷ کۀ چرې دواړه واول بېل بېل

ادا شي يا د جدا جدا احساس وشي نو بيا به غبرګ غږ نۀ وي او مرکب خپلواک (Vowels Cluster) به ګڼلي شي لکه مائل، سيد، تيار او وايي وغيره.

خيال بخاري د پښتو واول علي او حرکي لس حسابوي او دا چې د دوو بنيادي اوازونو په يو ځايي کولو جوړيږي. زمونږ برغد اوازونه د يو خرکي (زور، زبر) وغيره اواز او د يو علي اواز په يو ځايي کولو جوړيږي ۱۸

د خپلواک د وينا په خت کښې د يو خپلواک حاصيت بل سره بدليږي. د برغد يا غبرګ غږ دوه قسمونه دي يو کښې چپه (syllable) په شروع کښې زيات وي او اخر کښې کم وي. يعني شروع د يو ښکاره انداز نه کېږي او په مبهم انداز ختميږي. يا دا چې په شروع کښې چپ سيلاب نۀ وي او اخره کښې وي يعني د يو مبهم نقطې نه په واضحه ختم شي. ۱۹

دا په اصل کښې دو و خپلواک ترون او پيوستون دے. په دې کښې دوه خپلواک په داسې طريقه سره يو ځاے کيږي د يو د ادا کېدلو ګمان پرې کيږي يعني تلفظ يې داسې وي چې دوه نۀ ښکاره کيږي. د دې مثالونه زوے (Zoy)، ليو (Lew)، لو (Law)، پړا، (Parāw) دي. د غبرګ غږونو څۀ اندازه د دې جدول نه هم کېدے شي.

| e w | i w | aw | ā w | uy | oy | ay | āy |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ليو | تريو | لو | پړاؤ | دوي | زوے | زمرے | سړے |

۲۰

پښتو ژبه کښې د خپلواکو غږونو تعداد له مختلفو پوهانو له خوا مختلف ښودلے شوے دے. خيال بخاري لس يادوي، محمد رحيم الهام يې نهه شماري او ډاکټر مجاور احمد ضيا اووۀ ياد کړي دي چې په لاندې ډول يې مثالونه بيان شوي دي :

1. ا [a]: لار، الله اس
2. ي [i]: سړي، سينه، ويشتل، ويني وغيره
3. ې [e]: تبر، ګېر، مېله، ببره
4. ئ [ə y]: وليکئ، واخلئ، وکړئ
5. ی [ əy]: کرسی، جينی، چبلی، څپلی
6. ے [ay]: سړے، لرګے، منګے

7. ء [ə]:  اودۀ، زړۀ، تلۀ، خولۀ

8. وُ [u] (واو معروف) سُوکه، تُوره، دُوړه، لُور

9. و [O]: تور، کور، اور

واو دوه قسمه نور هم لري چې په دې ډول دي

10. و [aw]: دا نرم ادا کېږي او وړاندې غږ يې زوَر لري  دې ته برغد غږ هم وئيلے شي لکه کنډاو، پلو۔

11. و [o]: وړوکې واو، چې مخکښې غږ ترې لنډ پېښ لري لکه تاسو۔

د "و" څلور واړه خپلواک غږونه ځان ځان له جدا ګرافيم  يا حرفونه نۀ لري۔ حقيقت دا دے چې دې غږونو ته غور اوشي نو جدا فونيم معلومېږي خو بيا هم جدا جدا شکلونه ورکړې شوي نۀ دي کۀ چرې دا هم حساب شي نو بيا يوولس خپلواک جوړېږي۔  خپلواک د نړۍ په ټولو ژبو کښې ډېر ارزښتناک وي او هم دا بې واکو له حرکت او معنې ورکوي، چېې يا سېلابونۀ جوړوي ځکه په عام توګه يو کلمه چې څومره خپلواک غږونه لري هغه هومره شمېره يې د سېلابونو يا چپو هم وي۔

## حوالي:


1. پښتو فونولوجي، مخ ۳۲
2. بشره اکرام، ډاکټر، ژبپوهنه، پېښور، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ۲۰۱۸ء، مخونه ۹۲_۲۹۵
3. گیان چند جین، پروفیسر، عام لسانیات، لاھور، بک ٹاک، ۲۰۱۸ء، ص ۸۶
4. نارنگ، گوپی چند، ڈاکٹر، اردو کی تعلیم کے لسانیاتی پھلو، دلی، آزاد کتاب گھر، ۱۹۶۱ء، ص ۱۵
5. سبزواری، شوکت، ڈاکٹر، اردو لسانیات، کراچی، مکتبہ تخلیق ادب، ۱۹۶۶ء، ص ۱۷
6. اردو لسانیات، ص ۷۰
7. پالوال، عبدالرازاق، ڈاکٹر، معیاري پښتو، شال، یونائٹڈ پریس، ۱۳۸۴ء، مخ ۶۶
8. عام لسانیات، ص ۱۰۷
9. سروري، عبدالقادر، ژبه او ژبپوهنه، ژباړن، پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزیر، پېښور، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ۲۰۱۸ء، مخونه ۲۲، ۲۳
10. عام لسانیات، ص ۱۰۷، ۱۰۸
11. خلیل صدیقی، اوازشناسی، لاھور، بیکن بکس، ۲۰۱۵ء، ص ۵۶
12. John lyons, language and linguistics, New York Cambridge university pres, P, 72.
13. Language and linguistics, P 82
14. صابر خویشکي، ډاکټر، غږپوهنه او وییپوهنه، مخ ۱۴
15. اردو زبان کے لسانی پھلو، ص ۲۱
16. شاکر، نوررحمان، ژبه°:°°°°، کابل، ۱۳۵۰، مخ ۱۴
17. عام لسانیات، ص ۱۱۷
18. خیال بخاری، د پښتو ژبې بنیادي مسئلې، مشموله پښتو، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۲۴_۲۵ء، مخ ۱۵۶
19. ساھی، عبدلغفور، اردو لسانیات کے مباحث، شعبہ اردو، جی سی یونیورسٹی لاھور، ۲۰۰۶ء، ص ۳۵
20. محبوب، محبوب شاه، پښتو ژب دود، جلال آباد، مومند خپرندویه ټولنه ۲۰۱۸ء، مخ ۳۱